**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست**

**د دفتر ریاست**

د متحدالمال شمېره: څلورم

**نېټه:** ۱۹ سنبله ۱۴۰۲ هـ ش

---

عالیقدر امیرالمومنین ((حفظه الله)) د **۱۴۰۰/۱۲/۲۹نیټې د ۳۰**مې شمېرې **فرمان له مخې ټولو امارتي ادارو** ته داسې لارښونه کړې ده:

**((د اسلامی امارت ټولو مسئولینو ته هدایت دی چې کیدای سي تاسو به په خپل مسئولیت کې وظیفي خپلو نږدې قریبانو یا خپلو اندیوالانو ته د خپلولۍ یا خپلو شخصي تعلقاتو پر بنیاد ورکړې وي، ددې کار څخه په کلکه پرهیز وکړئ چې دا کار ګناه او د الله ((جل جلاله)) د ناراضي او عذاب سبب دی.))**

د همدې فرمان له مخې (( **د وزارتونو وزیران، د معاونیتونو مرستیالان، عمومي خپلواک رئیسان، د ریاستونو رئیسان او د آمریتونو آمران نشي کولی چې په مربوطه اداراتو کې خپل پلار، زوی، ورور، وراره، خوریې، تره، ماما، خسر، اوښیګان ( د میرمنې ورور او د خور خاوند) او زوم مقرر کړي.))**

بناء په مرکز او ولایتونو کې ټولو ملکي او نظامي نظارتي آمریتونو او ریاستونو ته لارښوونه کیږي چې له اقاربو څخه منظور پورتني اشخاص دي او په امارتي مراجعو کې د همدې اشخاصو د تقرر په صورت کې دې موضوع په واضح ډول د اړوند راپور په موندنو کې انعکاس کړي.

د یادونې وړ ده چې امارتي مسئولین او چارواکي کولی شي خپل اقارب د موټروان، د کور د خدمتګار، آشپز او ساتونکي په توګه مقرر کړي.

**په درنښت**

**مولوي شمس الدین ((شریعتی))**

**د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت د لوی ریاست سرپرست**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.